# ځان پېژندنه او غرور

بېلتانه دي ډېر عالم بېنوا کړي
چاته وژاړم د ځـــــــان بېنوائي؟

(پیرمحمد کاکړ)

په کورکښې دوه درې حساس ملګري راسره ناست وه، ما له دوی سره خبري اتري کولې ورو ورو خبري غځېدې، او زموږ پر اجتماعي مضرو اخلاقو تنقیدونه کېده، یوه به ویل : چي پښتانه بې ځایه مغروره قوم دئ، بل ویل : یه دغه غرور نه دئ بلکی د "نفس علویت" او د "اجتماعي خلق" لوړتیا ده.

خبري ډیري ګڼي سوې، او هر چا پر خپله عقیده اصرار کاوه، زموږ عادت دئ چي تل مباحثه مجادله کیږي او ږغونه هم لوړیږي (دا هم یو اجتماعي عیب دئ) ځینو ملګرو غوښته چي پر ستوني زور وکړي، او خپل "منطق" د لوړ ږغ په قوت د نورو په دماغ کښې کښېنوي.

ما د ځانه سره فکرکاوه چي څنګه د ملګرو دا کلامي بطش سوړ کړم ، او څنګه له دې جدله یوه منطقي نتیجه راوباسم؟ دوی ستړي سوه خو یو له بله سره قانع نه سول. (اکثراً زموږ مجالس دغسي بې نتیجې ختمیږي).

په پای کښې ما له دوی سره دا خبري وکړې چي زما په خیال باید ټول پښتانه ئې ولولي یا ئې واروي. دا دئ چي د کابل مجلې ته مي وکښلې ښایي چي کوم پښتون ئې ولولي او د نورو غوږو ته ئې ورسوي.

ما یوه زړه انا درلوده، دې د دنیا ساړه او تاوده ډېر لیدلي وه، او پخه سپین سرې پښتنه وه، په کوچنیوالي کښې دې زموږ په دماغ کښې دا خبره راټینګه کړې وه چي : پښتانه تر ټولي دنیا غښتلي دي، او دوی په ټوله دنیا کښې یو باناموسه او پر پت ټینګ قوم دئ.

د وړوکتوب او کوچنیوالي وینا نه هیریږي، او دا "درس" داسي زما پر دماغ او زړه حاکم دئ چي تر اوسه مي هم هغه عقیده پاته ده، او د دنیا د سیر او مرور "دروس" ئې هیڅ نه سي محو کولای.

مګر کله کله چي زه خپله خولی قاضي کړم او له ځانه سره په انصاف حکمیت وکړم، په دې خبره کښې یو راز "مبالغه او غرور" هم ګڼه وینم، موږ به ډېر ښه خویونه لرو، مګر بد اخلاق هم لرو، موږ به باناموسه قوم یو، مګر ډېر داسي کارونه کړو چي یو ناموس والا انسان ئې نه کوي.

دې د "مبالغې او غرور" روح موږ ته ډېر تاوانونه رارسولي دي، او لکه په اجتماعي ژوندانه کښې چي یوازي "بېخودي" بده ده دغسي دوني "خودي" او "غرور" هم بد دي، په اجتماعي حیات کښې لازمه ده چي یوه "جامعه" تر هر څه دمخه ځان وپېژني، او هم ځان تول کړي، چي د دنیا د ملتو په صف کښې اخلاقاً او معناً څوني وزن لري؟ ډېر ملل بې ځایه غرور تباه کړي دي او ډېر غښتلي چي یوازي په خپل قوت مغروره وه او د نورو زور او قوت ئې نه سنجاوه لاسونه او پښې ئې ماتي سویدي.

موږ پښتانه هم باید یوازي په خپلو ښېګڼو "مغرور" نه سو، و خپل "اجتماعي موقف" وپېژنو، څوك چي ځان نه پېژني، هیڅوك نه سي پېژندلای.

زه له دې خبري څخه انکار نه کوم، چي پر "ځان باور" او اعتماد او پر خپلو اخلاقو باندي تکیه کول ښه کار دئ، او پښتانه باید ټول خپل زاړه مزایا خوندي کړي.

هو ! دا ښه کار دئ، مګر نه دوني چي سړی له کاره وباسي، او په پای کښې یو "مغرور" او بې حقیقته شی

ځني جوړ کړي، دا باید په ښکاره وویل سي : چي موږ پښتانه لکه چي ښایي هغسي خپل ځانونه نه پېژنو، او بې ځایه غرور او ویاړ زموږ د قوم ریښې راکاږي.

افتخار ، ترکومه؟

په ځان نازېدل ، آخر ترکومه؟

نن ورځ موږ تر سیالانو پاته یو، د ژوندانه له لوازمو څخه هیڅ نه لرو یو بې وزلي او غریب او کمزوري قوم یو، علم نه لرو، ثروت نه لرو، په یوه فکر نه یو، یو د بل د پښو خاوري سره کاږو، غلا، نفاق، درواغ، چاپلوسي داسي اجتماعي امراض دي چي زموږ کور راسپېره کوي.

مګر موږ یو دغه ته نه یو ملتفت، خو په دې "مغروره" یوه چي : "پښتون د توري زوی دئ ... او ... "

نن ورځ په دې ویښه دنیا، او د کار او عمل په میدان کښي دا زموږ تشه دعوه ځای ته نه رسیږي. موږ باید پوه سو، چي تر دنیا ډېر پاته یو، او د هیچا سره په هیڅ شي کښي سیالي نه سو کولای. که مو په دې ډول ځان وپېژانده نو به ضرور خپل ذلت ته ملتفت سو، او چي خپل ذلت ته ملتفت سوو، نو به په سعی او عمل شروع وکړو، او هم دغه د سعادت لاره ده[۱].

و فی ذلك فيتنافس المتنافسون

---

[۱] کابل مجله، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۹ مه ګڼه، ۹ _ ۱۰ مخونه.